د افغانستان د جمهوری اسلامی دولت د لوړو زده کړو د وزارت له
خوا په کابل کښې په ۱۹ ، ۲۰ اپریل ۲۰۰۶ء د ښاغلی اجمل خټک د
زوکړې د اتیایمې کالیزې په مناسبت د علمی څېړنیز سیمینار دپاره

# د کابل سفر

اسرار د طورو



د چاپ حقوق يې خوندي دي

**د کتاب نوم:** **د کابل سفر**
**ليکوال:** **اسرار د طورو**
**موبايل:** 0302-8188390 **ايميل:** bukharasani@yahoo.co.uk
**کمپوزنګ:** **عبدالهادي حيران**
**موبايل:** 0345-9027648 **ايميل:** ahhairan@yahoo.com
**د چاپ نېټه:** **مئ ۲۰۰۶ء**

## يو څو خبرې

"اسرار د طورو " د پښتو ادب يؤ داسې ښکلی نوم اؤ ترکيب دی چې يؤ خپل ځانګړی انفراديت لری. دا ترکيب د يؤ پښتون او د کلی د تړون عجيبه ثقافتی کيفيت او معنويت لری. اسرار په طورو او طورو په اسرار ښائسته ښکاری. دی د طورو يو علامت ګرځېدلی دی.

زما چې کله د شعروادب سره تعلق پيدا شو نو دا نوم د دغه وخت د اخبارونو او مجلو يو ضرورت ګرځېدلی ؤ. د دوئ شاعری زمونږ دپاره د لارښودنې کار کولو او دوی په غېر رسمی توګه زمونږه استاذان وو. خو دا يو ډېر عجيبه اتفاق دی چې سره د يوې علاقې سره تعلق لرلو زما د دوئ سره چرته ملاقات شوی نۀ ؤ. خو چې خدای کوله نو د اجمل خټک پحقله په کابل کښې د سيمينار په حواله په کابل پوهنتون کښې د "لوړو زده کړو د وزارت " په ګيسټ هاوس کښې مونږ دواړه د يوې کمرې ملګری شو.

"اسرار د طورو " د يوې علمی او ادبی کورنۍ سره تعلق لری. د هغوئ درنې څېې او پښتنی خويونو د دغې علمی کورنۍ او د مردان د پښتونولۍ يو ښکلی امتزاج درلود. هغه ماته ډېر دور انديش، زيرک او د سړې سينې څښتن او قدرمن مشر ښکاره شو.زه هم په سکول کښې څوارلس کاله استاذ پاتې شوی يم او کله چې ماته دا پته ولګېده چې دوئ په سکول سائيډ باندې پرنسپل پاتې شوی دی نو په ما د دوئ د شخصيت د جلالی رغونې نور خوف او يره هم خوره شوه. خو د دې جلالی رغونې څښتن شخصيت چې به کله خبرې کولې نو ټول به جمال جمال ؤ.

اسرار صاحب ډېر پرهېزګاره سړی دی. پخپل وخت نمونځونه او نفلونه به ئې کول.

مونږ چې به کله ستړی ستومانه د ماښام د ډوډۍ خوړلو نه وروستو په کټونو کښې پرېوتو نو زۀ به ډېر زر اودۀ شوم او اسرار صاحب به رانه داسې ويښ پاتې شو. د اسرار صاحب دا عادت ؤ چې هغوئ له به په ملاسته ملاسته کښې د يو اوږد ګپ نه پس خوب ورتللو او ما به لا سر لګولی نۀ ؤ چې په خرېدو به شوم. زۀ په دې ډېر خفه يم چې ما د اسرار صاحب د خوب د راتللو د دغه خرامانی انداز غوښتنې پوره نکړی شوې.

اسرار صاحب کښې يؤ کمال دا هم ؤ چې هغوئ به د يو منظر يا ماحول نه متاثره شو نو ډېر زر به ئې خپل دغه ښائسته جذبات د يو تخليق په شکل کښې مربوط کړل او مونږ ته به ئې واؤرول. زمونږ د ټولو ملګرو په مينځ کښې به اکثر د اجمل خټک په خواهش مشاعرې کېدې.ترکومه حده چې د اسرار صاحب په دې کوچنۍ سفرنامه کښې د واقعاتو ، حالاتو او لمحاتو په ليک کښې د قېدولو خبره ده نو دا د اختصار باوجود د تفصيل عجيبه ښائست لری. ژبه ئې د يوسف زۍ لهجې د خوږلت او عام فهمۍ سره سره د مردان ادبی زرخېزۍ او د شنو شنو فصلونو نظر خېزۍ هم لری. چرته چرته پکښې د نظم ګډون د سفرنامې د بيان په شوخۍ کښې نور خوند هم پيدا کوی.د اسرار صاحب د ځنو القابو نه د هغوئ د ژور نفسياتی بصيرت تصديق هم کېږی او په خصوصی توګه ئې چې زما په باره کښې په يو نظم کښې کوم حقيقت څرګند کړی دی هغه زما د "اندرون " يوه ښکلې تصوير کشی ده او زه تصديق کوم چې دا زما په حقله يوه تاريخی رائې ده.په دې نظم کښې چې هغوی ما سره د مينې او محبت د کوم نسبت اظهار کړی دی نو ماته د خپل يو ورک همدرد پته ولګېده چې دا څوک دی؟ او هغه ماته معلومه شوه چې دا ګوندې "اسرار د طورو " دی. لکه څنګه چې ما په دې شعر کښې پوښتلی دی:

چې ډېر ډېر مې قدروی په خپل صحبت کښې
غم شريک مې څوک پيدا شولو په دشت کښې
چې حالونه مو يو بل باندې ښکاره دی
ډېر خويونه د ائينو دی محبت کښې

ډاکټر پرويز مهجور خويشکی
**۱۵** مئ **۲۰۰۷**ء

بسم الله الرحمٰن الرحیم
د افغانستان د لوړو زده کړو د وزارت له خوا د پیاوړي لیکوال او نومیالی شاعر اجمل خټک د زوکړې د اتیایمې کالیزې علمی څېړنیز سیمینار د اپرېل ۲۰۰۲ء په ۱۹ او ۲۰ تاریخ په کابل کښې اوشو. د افغانستان د اساسی قانون له مخې دولت به د علم، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغېزمن پروګرامونه جوړوی او په دې تړولو برخو کښې به علمی څېړنې هڅوی او ملاتړ به ئې کوی.
ماته د اپرېل په اولنۍ هفته کښې ستر اجمل خټک صېب ټیلیفون وکړو چې تهٔ به مونږ سره د کابل سیمینار ته لاړ شې؟ ما فکر وکړو چې اجمل خټک د پښتون قوم د ازادۍ او سوکالۍ د پاره بې دریغه قربانۍ ورکړې دی. نن د افغانستان حالات ښهٔ نهٔ دی. ولې بیا هم په علمی او ادبی سنګر د پیاوړی اجمل خټک د کار قدر کوی نو زهٔ کهٔ هر څو د بائی پاس اپرېشن چپو وهلی یم د خټک صېب په قافله کښې به ځم. هغوئ ماته په یؤ ټاکلی سرخط د مقالې لیکلو دعوت هم راکړو. بیا د خټک صېب ځوی ایمل خان خټک ما سره په فون تماس ونیوو. په ۱۲ اپرېل ۲۰۰۲ء مې خپل پاسپورټ ایمل خان ته ورکړو. مقاله مې د اجمل خټک صېب په شخصیت ولیکله.
آ
په ۱۷ اپرېل ۲۰۰۲ء د ګل په ورځ د سحر اوهٔ بجې د سپین جومات پېښور په خوا کښې د ټولو ملګرو جمع کېدل وو. ما په راحت اباد کښې من دی کره شپه وکړه. او بیا سحر اوهٔ بجو له اشرف علی په خپل ګاډی کښې سپین جومات ته ورسولم. سعدیه بی بی، اطهر علی او منن راسره هم وو.
ګران سیف الرحمٰن سلیم د ګلوزو (پېښور) نه راغلی وٌ. د ۷۲ کالو دا ځوان زلمی بوډا د پښتو ممتاز شاعر دی. ګران طاهر افریدی راغلی وٌ چې د بوړه ایف ار د میر اکبر خان ځوی دی. د جرس مدیر پاتې دی او ځانګړی افسانه نګار دی. سفرنامې ئې هم چاپ دی. ډېر ښهٔ سړی دی. هغه د کراچۍ نه راغلی وٌ.
څلورم ملګری شوکت شرار صېب انجینئر وٌ چې د سوات مینګورې نه راغلی وٌ. پنځم زهٔ اسرار د طورو وم. په سروبۍ کښې روک شوی ووم خو بیا راته ښاغلی انورزېب مانېروال راپاد کړل چې تهٔ موجود ئې. ایمل خان هم راورسېد. کوچ تیار وٌ. بېګونه سمبال شو. پاسپورټونه ایمل خان راکړل. کوچ د اسلامیه کالج د ګېټ مخې ته د درې پروفیسرانو اباسین یوسفزی، پروېز مهجور او ډاکټر یاسین اقبال په انتظار کښې ودرېدهٔ. دوئ پاؤ کم اتهٔ بجې راورسېدل او د پاکستانی افسرانو روایت ئې قائم وساتهٔ.
پروفیسر اباسین یوسفزی د خانپور ادینزو (دیر) د برادرخان ملک ځوی دی. قابل استاد، شاعر او کمپیئر دی. د هر چا خوښ دی. په ټی وی ئې دنیا وینی او مینه ورسره کوی.
پروفېسر ډاکټر مهجور د پښتو اکېډمۍ پېښور غړی دی. د خویشکو (نوښار) د زرین خان ځوی دی. محقق دی. صوفی شاعر دی. نیک انسان دی.
ډاکټر یاسین اقبال د تولاندۍ (صوابۍ) د پرنسپل محمد یعقوب خان قابل ځوی دی. پی ایچ ډی ئې د سائنس په یوه شعبه کښې کړې ده. په میټریل انجینئرنګ کښې مهارت لری. د پښتو شاعر دی. په قام مئین دی. زما د ځوانی مرګ خورئی اشفاق د لوبو دا ملګری ماته خپل خورئی ښکاری.
مونږ لس تنه په فلائنګ کوچ کښې طورخم ته ورسېدو. پاسپورټونه او بېګونه وکتی شول. یو صاحب چائی راکړې او په افغانستان وردننه شو.
آ
کلونه اوشو چې افغانستان د اور په لمبو سوزی او د هېواد مادی او معنوی وجود ئې په غم اخته کړی دی. ځوانان مړهٔ، ودانۍ لوټې لوټې او مال حال تالا ترغه شو. که خارجی خواخوږی وو که وطن وال جنګیالی وو. د جهاد په نوم راغلی دوستان وو خو هېواد ئې برباد او قبیلې ئې بې کوره کړې. او بیا د مذهب په نوم وطن لا زیات کړون ولید. بیا نو په خارج کښې ناستو افغانانو لیکوالو دنیا ته خپل فریاد ورسوو. په امریکا، ناروی، جرمنی، پېښور او کوټټه کښې د افغانانو اخبارونه، مجلې او کتابونه چاپېدل چې د افغانستان دننه پس جنګی واکمنی ئې دنیا ته ښکاره کړه. او نن په افغانستان کښې د سوزېدلی ګلستان د بیا ابادولو کوشش په جمهوری طریقه کېږی. په دغه هېواد کښې

انتخابات شوی دی. د قامي جرگې وکیلانو په ووټ وزیران ټاکلي دي. صدر حامد کرزئی قابل او قامي غړی د څان صلاح کار کړی دی. د پوهاند سید امیرشاه حسن یار غوندې تکړه عالم ته ئې د لوړو زده کړو د وزارت دنده په غاړه کړې ده. او د پښتو ژبې ستر محقق، نقاد او عالم زلمی هېوادمل ئې د مطالعاتی چارو صلاح کار ټاکلی دی. د دې د پاره چې په جنگ زپلی وطن کښې د زده کړې عمل ته په ټُندی وده ورکړی. په دې ضمن کښې په مختلفو علمی، ادبی او سائنسی موضوعاتو د علمی څېړنې سیمینارونه کېږی او نوی مترقی اسلامی جمهوری افغانستان جوړېږی.

مونږ چې د طورخم په مقام افغانستان ته دننه شو نو مولیدل چې د دواړو غاړو نه خلق پاکستان او افغانستان ته ځی راځی. مونږ سره د افغانستان مامورینو په ډېره ښه پخېر راغلاست وکړو. په نیاز ئې چائی راکړې. د سرحد مسئول په خوږو خبرو ونمانځلو او په درناوی ئې د جلال اباد په لور په دوه کوچونو کښې رخصت کړو.

د ننگرهار والی طورخم ته زمونږ مخې ته خپل استازی رالیږلی ؤ. په جلال اباد کښې د قبائلی چارو رئیس محترم شاه پور خان صېب زمونږ استقبال وکړو. دغلته سفارتکار بابری صېب هم ؤ. غالباً د افغانستان په وخت یوه بجه د جلال اباد په ښار کښې مونږ ډوډۍ وخوړه، د ماسپښین مونځ مو وکړو او بیا گاډو ته وختو. رئیس صېب راسره ؤ.

په جلال اباد کښې د حضرت باچاخان } مزار دی. مونږ ټولو هلته حاضری وکړه. یو قاری د کلام پاک تلاوت وکړو. بیا مو د بابا }د پاره د مغفرت دعا وکړه. د بابا }د مزار عمارت مرمت او ارائش غواړی. دلته د بابا zپه نوم یوه لیسه جوړول پکار دی چې ورو ورو د پوهنتون درجې ته ورسی. دا کار په لره پښتونخوا کښې د بابا }د شتمنو عقیدتمندانو د وَسْ خبره ده. د هغوئ په ډله کښې داسې جاگیردار او سرمایه دار شته چې د افغانستان د زده کړو د وزارت سره تماس ونیسی او د باچاخان} په نوم د هلکانو او جینکو د پاره یوه لیسه جوړه کړی. د باچاخان }په مزار شېرمحمد نومې یؤ څوکیدار مقرر ؤ. باچاخان }د ازادۍ مجاهد ؤ، مصلح ؤ، د صبر جنگ ئې کولو، د تشدد خلاف ؤ او دیندار پښتون مسلمان ؤ.

وړاندې د افغانستان د نوموړی شاعر استاذ گل پاچا الفت} قبر ؤ. د گل پاچا الفت} د پلار نوم میرسید باچا ؤ. مونږ د استاد الفت } په مزار په جمع فاتحه وکړه. گل پاچا الفت } یؤ خندان ظریف طبع او د سمندر تل ته رسېدونکی ذهین انسان ؤ. زړۀ ئې د مینې ډک ؤ. نظم او نثر دواړه ئې ښکلی وو. بې کینې سړی ؤ. په خوئی خصلت او لفظونو کښې ئې ښکلا وه. الله پاک دې ورله مرتبې اوچتې کړی.



دلته رئیس صېب پاتې شو او مونږ وړاندې لاړو. په جلال اباد کښې د ننګرهار د قومي ټي وي نه ښاغلی نصير احمد صافي زمونږ ځينو ملګرو سره په اختصار خبرې وکړې او زمونږ عکسونه ئې واخستل. ما د ټي وي د نمائنده د يؤ سوال په جواب کښې ووئيل:

" زهٔ محسوسؤم چې په خپل کور کښې ګرځم. مونږ د پښور او مردان د سيمې پښتانهٔ د کابل د درياب او د اباسين اوبهٔ څښو او د دې دريابونو په اوبو خپلې زمکې اوبهٔ کوو. زمونږ ژبه، نسل، کلتور او دين يؤ دی. مونږ د يؤ بل وروڼه يو. نو دا وطن راته خپل کور ښکاري. "

هم دا ډول خبرې سليم راز او سيف الرحمٰن سليم هم وکړې. عموماً زمونږ د ټولو دغه ډول تاثرات وو. په جلال اباد کښې د پوهنځی يؤ استاد ته ما خپل دوه کتابونه ورکړل.

اوس مونږ سروبی ته په درينځکو روان شو. ما خپل يؤ لاس په سينه کلک ايښی ؤ او په بل مې وړاندينی سيټ کلک نيولی ؤ. ما سره د خپلې شلېدلې سينې غم ؤ خو چاته مې اظهار نهٔ کوؤ. د غرونو سيل زما فکر ته مېدان فراخ کړی ؤ. چې سروبی ته ورسېدو نو څلورنيمې بجې وې. دلته مو اودس وکړو. بيا مو د مازيګر مونځ وکړو او شنې چائې مو نوش کړې. او بيا فلائنګ کوچ ته اوختو. مونږ ټول لس تنه وو. زما نه په شمېر کښې ځان ورک شوی ؤ. انور زېب انجينئر خبر کړم چې تهٔ خو دا دی موجود ئې. او د خندا يوه لطيفه ئې مېندهٔ کړه. اوس مونږ د لَته بَند په لاره روان شو. دا لار وه که سړک ؤ ! د ټينک يا بلډوزر دپاره خو بده نهٔ وه خو د ژوبل افغانستان په غاړو غرونو کښې د اسلام اباد د سړکونو توقع هم لېونتوب دی. دا کوږ ووږ سړک هم دم غنيمت ؤ. ما د ډرائيور نه تپوس اوکړو:

"باچا ستا نوم څهٔ دی؟ "

وئيل ئې "خان زاده ".

ما وی "خان زاده تهٔ خو زمونږ د مردان ژبه وائې ".

"صېب زهٔ ډېره موده په مردان کښې ووم ".

" مردان کښې دې څهٔ کار کولو ؟. "

"صېب ما به ټرک چلولو. کراچۍ پورې به تلم. ډېره موده مې خان زاده خان له غنم راوړل. دا ډېر ښهٔ خلق وو. مزدوری به ئې په وخت راکوله او ډوډۍ به ئې هم راکوله ".

"خان زاده ! دا چې مونږ ئې په جلال اباد کښې زيارت وکړو دا بابا تا ليدلی ؤ ؟ "

" او صېب دا خان ډېر نر سړی ؤ. ما ئې جنازه هم ليدلې وه. د ډاکټر نجيب زمانه وه "

"خان زاده ! دا طالبان څوک وو ؟ "

" صېب والله دا خو رقم رقم خلق وو. په دوئ کښې د دې خاؤرې فرزندان وو. خفه کېږه مهٔ. ستاسو د خاؤرې پښتانهٔ پکښې وو. پنجابيان، ايرانيان او عرب پکښې وو. او نور خلق وو ".

د لته بند لار مونږ وار بې واره په لټو وهلو. د انور زېب نرۍ ملا خو دړدونه کول. دا ځوان سړی د ملا دړد بيا روستو هم ډېر په عذاب کړی ؤ. تبې نيولی ؤ.

زمونږ ډرائيور ډېر په هُنر او چابک دستۍ فلائنګ کوچ زغلولو. د ماښام مونځ به مونږ په بت خاک کښې کوو. په لار کښې ملا عمر کلی راغی. دلته د چينار د ونې لاندې د پلاسټک په کرسو کښېناستو. قهوه نوشِ جان شوه. دا يؤ ښکلی ځائی ؤ. چينې پکښې وې. په بت خاک کښې مو د ماښام مونځ وکړو. نو د بګرامۍ په اولسوالۍ ورغلو. او د بجلو په پړق پړوق کښې د موټرو په ګورم کښې د افغانستان په مرکزی ښار کابل وردننه شو. د کابل ښار غوړېدلی ګلزار ؤ. ښکته هم رڼاګانې وې او ګېرچاپېر په غرونو هم برقی چراغونه ځلېدل. اتهٔ بجې د ماسخوتن مونږ د کابل افغانستان د عالی تحصيلاتو مرکز ته ورسېدو.

دلته محترم پروفيسر صابر خويشکی مُعينِ وزارتِ تحصيلاتِ عالی او رئيس د ليليه (مهمان خانې ) مونږ ته په مينه او محبت پخير راغلاست ووئيل او د او سېدلو دپاره ئې کمرې راکړې. زهٔ او ګران ډاکټر مهجور صېب د خويشکو (نوښار ) چې د پښتو اکېډمۍ پښور پروفيسر دی په يوه کوټګۍ کښې راغلو. دې کوټګۍ کښې د ضرورت فرنيچر ؤ او ورسره جُخت تشناب هم ؤ.

د کابل هوا خوږه او رُوح افزا وه. مونږ غسل اوکړو مونځ مو اوکړو، ډوډۍ مو اوخوړه او بيا اودهٔ شو.

په ۱۸ اپرېل ۲۰۰۷ ء زهٔ وختي وېښ شوم. د مانځهٔ نه پس ناست ووم فکر اوړی ووم "دا په تېرو شلو پنځه وېشتو کلونو کښې په افغانانو څهٔ تېر شول. مرګونه، لوټ، تالان، هجرت، د ابادو منزلونو او کورونو ورانول، نړول، سوزول. د پوهنځیو، لیسو او پوهنتونونو بندول او ورانول. د سپینو، تورو او غنم رنګه خارجیانو د دې غریب او ښکلي وطن په جمال او ر لګول د ستم ګری یوه خونړی کیسه ده.

خو نن د افغانستان د بیا ابادولو هڅې کېږی. د نوی حکومت په جوړېدو تعلیمی اداري په غزېدو دی. په دغه تعلیمی ادارو کښې په مجموعی ډول د زده کړې کوونکو شمېر په زرګونو دی. یوازې د کابل په پوهنتون کښې د محصلینو شمېره شپږو زرو هلکانو او جینکو ته نزدې شوې ده. د څلور سوو نه زیات استاذان پکښې کار کوی. دا تعلیمی زیار جاری دی. په هرات، کندهار، بلخ، تخار، ننګرهار، خوست، جوزجان، بدخشان، کندوز، سمنګان او فاریاب کښې تعلیمی هلې ځلې روانې دی. دولت سره د پیسو پنګه کمه ده. د عمارتونو کار اټال دی. وران کورونه کنډر کنډر عمارتونه بیا جوړول غواړی. د امنیت مسئله هم ده. ما فکر کولو چې که افغانان یؤ ځل بیا په مینه او محبت یؤ بل ته غاړه ورکړی، د تورو، سپینو او غنم رنګه خارجیانو نه ځان اوساتی، ټولې قبیلې یوه جرګه یؤ ملت شی نو ډېر زر به دا ژوبل شوی ملک اباد شی. پرونی غم هېرول او د سبا فکر کول دی.

په ۱۸ اپرېل ۲۰۰۷ ء د مازیګر شپږ بجې ګاډی راغلهٔ او مونږ د حفاظتی ماموړینو په شرکت د کابل د ښار انټرکانټی نینټل هوټل ته لاړو. ګران اجمل خټک او ډاکټر خورشید عالم په دغه هوټل کښې وو. ډاکټر راج ولی شاه خټک هم په خپل امتیازی مزاج د "لَته بَند " د لنُو نه ځان بچ کړی ؤ. سلیم راز د طبقاتی ټولنې د امتیازاتو نه پخوا هم ګیله من ؤ او نن هم دی. ما سره د خپلې شلېدلې سینې فکر ؤ. خو د اجمل خټک ضُعف او ناروغتیا لا زیات فکرمند کړی ووم. او په دې خبره بې انتها خوشحاله ووم چې د افغانستان دولت او د لوړو زده کړو وزارت په دولتی سطح د پښتون قوم د بې جوړې انقلابی شاعر او ممتاز نثرنګار د علمی او ادبی خدماتو قدر کوی او د پوهنځو او پوهنتون طالب علمان د هغهٔ د علم او فکر او فن څنې استفاده کوی.

د انټرکانټی ننټل په ډیوډی (Lobby) کښې ښاغلی اعتماد خان هم موجود ؤ. د اټک پټرولیم لمیټډ دا کنټری ریپریزینټیټیو د اجمل خټک ملاقات له راغلی ؤ. دا صاحب په کابل کښې ملازمت کوی. دلته یؤ زلمی هلک ؤ چې د هغهٔ مور شاعره وه. د خټک صېب ملاقات له ئې ځوی رالېږلی ؤ. خټک صېب هغه پېژندہ. نوم ئې زما نه هېر دی. خټک صېب د ډاکټر خورشید عالم د قربانۍ، د هغهٔ د جدوجهد او د سلیم راز د هلک وانۍ د جوش یوه واقعه بیان کړه. د کراچۍ په هفته وار اخبار کښې چا "حیاناک "د باچاخان } خلاف یؤ ازاری بیان ورکړی ؤ. سلیم راز د اخبار دفتر ته د ملګرو سره لاړ او د باچاخان }په عزت ئې ننګ اوکړو. هغه بیان باز توبه ګار شو او په خپل پُوچ بیان ئې د ستومانۍ اظهار هم په دغه اخبار کښې چاپ کړو.

آ

دغلته مونږ وار په وار خپل شعرونه واؤرول. د انټرکانټ دغه لابی به زمونږ دا مشاعره او د څنې شاعرانو لطیفې یادې ساتی. خټک صېب دې شعرونو ته یؤ دَمْ تازه شو:

تا چې زلفې راخورې کړې زړهٔ مې خور شو
سودائی دې کړم د سوده مې زړهٔ تور شو
ما ودان کابل په خوب کښې دی لیدلی
که تالا پکښې زما د کاکا کور شو

(اسرار د طورو)

په دغه مشاعره کښې د سیف الرحمٰن سلیم غزل بوډاګانو کښې ځوانی پیدا کړه او د سلیم راز د یؤ شعر مصرع خو سمه د کابل د منو مربه وه:

"زما خپله تجربه ده "

سلیم راز د رڼا په طلب کښې هم د خپل خیالي چراغ نه علاوه بل چراغ پسې نۀ ځي. ځنې صوفیان خو نۀ په دېر وي او نۀ په حرم. بس په رڼا مئین وي.

اباسین د عام و خاص خوښ شخصیت دی. او په هره موقع د خپل تخلص حق ادا کوي. ډاکټر یاسین، ډاکټر خورشید عالم او طاهر افریدی د یورپ خبرې کولې. او اباسین د "یاد ساته" په غزل کښې د نوابِ دِیر هغه دیر په اباسین لاهو کړو. د لطیفه ګویۍ په حقله زما رائې دا ده چې د یؤ ادیب او تعلیم یافته پښتون په ژبه خوارۀ پاستۀ الفاظ راتلل ښه خبره ده. بیا پروفېسر خو زۀ Abbot ګڼم. نو د دوئ په ژبه پاکیزه لفظونه ډېر ښۀ لګي.

په ۱۹ اپرېل ۲۰۰۷ء د عالي تحصیلاتو د وزارت په مرکز کښې په یو لوئی هال کښې په نهه نیمې بجې د سیمینار افتتاح اوشوه. په دې په د افغانستان د تعلیم مرکزي وزیر محترم پوهاند امیر شاه حسن یار او د زده کړو د محکمې رئیسان، مسئولین او محققین پروفیسران ناست وو. د افغانستان اسلامی جمهوریت د لوړو زده کړو وزارت دا سیمینار د نومیالی شاعر، پیاوړی لیکوال او ټولنیز شخصیت اجمل خټک د زوکړې د اتیایمې کلیزې د علمی څېړنیز سیمینار په نوم ترتیب کړی ؤ. دا د ۱۳۸۵ لمریز کال د وري د پرشمه نېټه او د چارشنبې ورځ وه. د مجلس صدر زمونږ مشر ملګری ښاغلی سیف الرحمٰن سلیم ؤ. په خوا کښې ورسره ګران اجمل خټک ناست ؤ.

د قرآن عظیم الشان د تلاوت نه وروسته د افغانستان د اسلامی جمهوریت د جمهور رئیس پېغام پوهاند دکتور سید امیر شاه حسن یار (وزیر تعلیم) واؤرولو.

د پوهنې د وزارت پېغام ښاغلی محمد صدیق پتمن واؤرولو.

د اطلاعاتو او فرهنګ او ګرځندوی د وزارت پېغام هم واؤرولی شو.

د کابل پوهنتون پېغام ډاکټر عبدالحئ نظیفی وړاندې کړو.

د کابل د روزنې او ښوونې د پوهنتون پېغام پوهنمل شېرزاد ووئیلو.

د ننګرهار د پوهنتون پېغام پوهندوی امان الله حمیدزی راؤړی ؤ.

د دې نه پس محترم اباسین یوسفزی دد اجمل خټک په شخصیت یؤ ښکلی نظم واؤرولو.

دې ټولو شخصیتونو او ادارو د علم او ادب او د شعر او فکر په حواله او د پیاوړی اجمل خټک د فولادی عزم او نۀ ستومانه کېدونکې پاکې انسانی جذبې په حواله د دې لوړ پښتون د فکر او خدمت څېړنې ته تبریکات وړاندې کړل او د افغان قوم د ملی روایت مطابق ئې خټک صېب او د هغۀ ملګرو ته د مینې او ورورولئ په ژبه تود هرکلی ووئیلو. په اخر کښې اجمل خټک په ناروغه وجود او په خوږه ژبه د افغانستان د اسلامی جمهوریت د رئیس اعلیٰ حامد کرزی، د هغۀ د صلاح کار محقق ادیب شاعر پوهاند زلمی هېوادمل، د ستر پوهاند دکتور سید امیر شاه حسن یار (وزیر تعلیم)، د دولت د همکارانو، د کابل او ننګرهار د پوهنتونونو د عالمانو، پروفېسرانو او د افغانستان د ټولو ورونړو تشکر اوکړو چې هغۀ او د هغۀ ملګرو له ئې دومره عزت ورکړو. هغۀ په جذباتی انداز کښې ووئیل چې:

"زما مور او خور به په مزدورۍ پردې مېچنې اوړولې او زما تربیت ئې اوکړو. "

هغۀ ووئیل زما دا نظریه او مفکوره ده:

چې نشه د استبداد لری په سر کښې
ماته یؤ دی کۀ مغل دی کۀ افغان

هغۀ ووئیل "زۀ د ټولو قومونو د ازادۍ قائل یم. د ظلم خلاف یم. ظالم که مغل دی که افغان دی، زۀ د هغۀ مخالف یم. " هغۀ زیاته کړه "زۀ مظلوم یم او خارجیانو ته وایم چې تاریخ دروغ نۀ وائی. افغان هغه قوم دی چې په رضا به درسره دوزخ ته لاړ شي خو په زور ئې جنت ته هم نشئ بوتلی. "

هغۀ زیاته کړه چې "پاکستان اقبال ته څۀ څۀ نۀ وائی. اقبال وائی:

آسیا یک پیکرِ آب و گِل است
ملت افغان در آن پیکر دِل است

دا افغان ملت د ایشیا په وجود کښې زړهٔ دی. که زړهٔ بې قراره وی نو د ایشیا وجود به بې قراره وی او چې ایشیا کښې بې قراری وی نو دنیا کښې به امن نهٔ وی. "

اجمل خټک ووې:

پښتو او فارسی د افغانستان غټې ژبې دی. دلته تاجک او ازبک هم شته. ترکمن هم شته. دا ټول افغانان دی. په دې ژبو تاسو ګېرچاپېر ګاونډیانو سره د ورورولۍ تعلقات جوړولی شئ. د لرې پښتونخوا او سېډونکی ستاسو ورونړه دی. یو نسل، یوه ژبه، یو دین، یو کلتور لرو. پاکستان، ایران، تاجکستان، ازبکستان اؤ ترکمنستان، ټولو قومونو سره ستاسو ورورولی جوړېدی شی. دا ورورولی ستاسو په ګټه ده. دا ورورولی د ایشیاء په ګټه ده او دا ورورولی د ګردې نړۍ په ګټه ده. نن دنیا ته د امن ضرورت دی. چې امن راشی نو ترقی به اوشی. زهٔ خو رڼا وینم. ماته ښکاری. ستاسو مستقبل زمونږ مستقبل روښانه دی. ځکه زهٔ وایم چې:

زما د بابا کور او ورور به خدای کا یؤ صلا شی

د وینو په دې ډنډ کښې به یؤ نوی ګل پیدا شی

د دې نه پس د ډوډۍ او مانځهٔ وقفه وه.

آ

د سیمینار دویم نشست دوه نیمې بجې د سیمینار په هال کښې پېل شو. د سمینیار د رئیس په اجازت ښاغلی ادیب حبیب الله رفیع د اجمل خټک په کتاب "دا زهٔ پاګل ووم" یوه علمی مقاله وړاندې کړه او دا ئې د "رپورتاژ" یوه ښه نمونه ثابته کړه.



د ښاغلی عبدالله بختانی په سوال د "خاطره" او "رپورتاژ" په مینځ کښې ښاغلی رفیع صېب یوه کرښه راښکله. ځنې نورې مقالې هم ولوستی شوې. د افغانستان ادیبان په پښتو او دری ژبو کښې د یورپی څېړنکارو په طریقِ کار (Method) د یؤ ادبی علمی تخلیق جایزه اخلی. نو زهٔ د خپلو اکثرو لیکوالو نه او خصوصاً د خپل ځان په مقابله کښې د تحقیق په کار کښې دوئ غوره ګڼم.

بیا ما د محترم اجمل خټک په شخصیت مقاله وړاندې کړه. د مقالې په اورېدو ټول سامعین مطمئن وو. ګران اباسین یوسفزی غوښتل چې یؤ څو زیاتې چېپ د خټک په تصنیفاتو ورغلی وی. ما د هغوئ د تجویز مننه وکړه او

عرض مې اوکړو چې په سیمینار کښې د اورؤلو په خاطر د سامعینو خاطر او د وخت احترام ملحوظ ۇ ګنې نو د مقالې نه کتاب جوړېدی شو:

"**مغل یم چې به نۀ کوُم خاطر د پښتنو؟**"

<u>(اسرار د طورو)</u>

زما د مقالې نه وروستو پروفېسر پروېز مهجور صېب یۇ ښکلی نظم واؤرولو. د ډاکټر راج ولی شاه مقاله هم په دغه اولنۍ ورځ سامعینو واؤرېده. د دویم نشست د اختتام نه پس مونږ خپلو ځایونو ته راغلو. په دغه ماښام د اریانا ټیلیویژن له خوا د ډوډۍ بلنه وه. د ټی وی د پاره یوه مشاعره هم ریکارډ شوه. د مشاعرې Compare اباسین یوسفزی ۇ.

په ۲۰ اپرېل ۲۰۰۷ء د پنجشنبې ورځ وه. په نهه نیمې بجې د سیمینار افتتاح د رئیسِ محفل استاد رهنورد زریاب په امر وشوه. مرستیال ئې دکتور راج ولی شاه خټک ۇ او منشی پوهندوی احمد شاه زغم ۇ.

د اروابښاد پوهاند رښتین مقاله د پوهندوی ډاکټره زرغونه زیور له خوا وړاندې شوه چې په اجمل خټک لیکلې شوې وه. مېرمن زرغونه زیور د اروابښاد رښتین لور ده. پوهاند رښتین لوئی ادیب ۇ. د مقالې ژبه د ښائسته نثر اعلیٰ نمونه وه. د محترمې خور زرغونه زیور انداز د لوستو هم ډېر ښۀ ۇ. خو بیا ورته د خپل پلار په شکسته تحریر لوستو کښې تکلیف ۇ نو اباسین یوسفزی ته ئې د لوستلو ووئیل. د هغۀ پرې سمی رانۀ غلو نو دکتور راج ولی شاه کاغذونه ترلاسه کړل او په تعجیل ئې مقاله ترسره کړه. زرغونه صاحبه خو په ستړه روغه ښکارېده ولې دکتور زیور صاحب جراحت رنځولی ۇ. الله دې دواړه خوشحاله کړی.

Ï

بیا پوهیالی ګل احمد یما په فارسۍ ژبه د اجمل خټک په مشهور کتاب "د غېرت چغه" باندې مقاله ووئیله او غالباً په پښتو ئې نظم ووئیلو. (د یما بېګم او هغه دواړه وروسته زمونږ کمرې ته راغلل. مهجور سره ئې د بایزید انصاری په حقله خبرې کول غرض وو. د "خانه نویسندګانِ جهان در افغانستان" په حقله ئې هم څۀ وئیل غوښتل خو په ژبه ئې نۀ پوهېدو. او بله دا چې رئیس د مهمان خانې او د سیکورټۍ مامورینو "نیرې چارې ته مېلمانۀ پرې نۀ ښودل". هغوئ یۇ درک راکړ... (Email: info@rahapen) چې... (دا خو جمله معترضه وه.)

Ï

د یما صېب نه وړاندې سلیم راز یوه ښه مقاله وئیلې وه او د خټک صېب انقلابی شاعری ئې مخې ته راوړې وه. د سلیم راز مخصوص انداز دی. دا تکړه ادیب، ترقی پسند لیکوال او شاعر دی. د تنظیم سازۍ هنر ورځی. سیاسی فکر لری.

د کوئټې د "لمبه" مجلې مدیر ښاغلی صادق ژړک "د ژوند چغې" ته لنډه کتنه کړې وه. مقاله ئې ښه وه. د دۀ نه وروسته مونږ د پیر محمد کاروان ښکلی شعر واؤرېدلو. ورپسې د سرمحقق عبدالله بختانی خدمتګار د خټک صېب په دوه کتابونو "د ژوند قیصه" او "د ژوند چغه" باندې یۇ علمی بحث ۇ خو دا مقاله پاتې شوه.

د سیمینار په دوېمه ورځ د سهار په غونډه کښې د ښاغلی دکتور خورشید عالم مقاله وه "زۀ اجمل خټک څنګه پېژنم؟" د خورشید عالم قیصۍ ډېره خوږه وه. دردمنه وه. د اجمل یۇ تصویر هم ۇ په دغه قیصه کښې. ډاکټر یۇ همدرد انسان، د مینې ډک انسان، یۇ مکمل انسان لیدلی ۇ. هغۀ زلمی خورشید ته د ژوند لار اوښؤله. د بهر دنیا ئې ورته په ګوته کړه. د ګوټ نه ئې راوویست. هغۀ د اجمل په شکل کښې یۇ دردمند انسان ولید چې قومی عالمی درد لری. دا قیصۍ د ډاکټر خورشید عالم ذاتی قیصۍ هم وه او زمونږ قومی سانحه هم. نۀ پوهېږم دا مقاله وه که الهامی افسانه وه. زۀ خو ورته فکر اوړی ووم.

Ï

په دغه ورځ د ډوډۍ او د مانځۀ د وقفې نه پس په اخری نشست کښې رئیس د جرس ایډیټر، د افسانو لیکوال طاهر افریدی ۇ. مرستیال ئې محمود صافی ۇ چې د تعلیم او تربیتی پوهنتون استاد ۇ. منشی پوهندوی احمد شاه زغم ۇ.

اوس نو د سرمحقق عبد الله بختانی خدمتگار د مقالې وار ؤ. هغوی د اجمل ختټک په دوه کتابونو "قیصه زما د ادبی ژوند" او "د ژوند چغه" مقاله لیکلې وه. ضمناً ئې د خپلې کتب خانې د تالان قیصه وکړه (دغه شان ماته په ۱۲ اپرېل ۲۰۰۷ء خور نجیبې بی بی د خپل اروابناد بابا محمد امین خوږیانی د کتب خانې او کور د تالا کېدو ذکر کړی ؤ). بختانی خدمتگار زیاته کړه چې د اجمل ختټک کوم کاغذونه ما سره وو هغه مې د کابل نه لرې په خپل کور کښې ایښی وو. هلته هغه د تالان نه بچ وو نو ما اجمل ختټک ته ورسول.

رئیس د محفل طاهر افریدی د وخت چیچې قابو ساتلې نو محترم خدمتگار خپله مقاله په لنډو ختمه کړه. د سوالونو په وقفه کښې ښاغلی رسول امین د نوی انسانی علومو په حواله ووې چې "پښتون ملت نهٔ دی، قبائل دی. افغانستان دې ټولو ګاونډیانو سره روغه ساتی." په دې نکته نور ټینګار ونهٔ شو. اروابناد خادم خو وائی "پښتون د ملت نوم دی" (نوې رڼا مخ ۴۰۱).

بیا ډاکټر یاسین اقبال خپله مقاله وړاندې کړه او د اجمل صېب قام دوستی ئې واضحه کړه.

اباسین د اجمل ختټک په شاعرۍ خبرې اوکړې خو رئیس ئې د کمرې د ملګرتیا پرواه ونهٔ کړه او حکم ئې جاری کړو چې وخت لږ دی. اباسین د طاهر په طهارت خانه کښې د ډېر وخت د اخستو ګیله او نهٔ کړه او لکه د منونکی تلمیذ ئې مقاله ختمه کړه.

د پوهنمل محمد آقا شېرزاد مقاله "د اجمل ختټک په شاعرۍ کښې بدیعی ښکلاوې" فنی مقاله وه. ځنې شاعرانو د مینې او اخلاص نه ډک خواږهٔ شعرونه ووئیل. مونږ د پوهنیار محمد نور خبری، د ښاغلی کاتب پاڅون، د کمال الدین مستان او د باز محمد عابد تشکر د مینې او وروولۍ په ژبه کوو.

بیا د اجمل ختټک صېب د کتاب "د وخت چغه" نه ښاغلی اباسین یوسفزی "نوی کال ته" نومې نظم واؤرولو. ختټک صېب ډېر خوشحاله شو او بیا بیا ئې د اباسین صوتی اهنګ وستایهٔ. رئیس صېب ورته هم په مینه مینه کتل. رُومبېټ ئې ؤ کنه. ورته خوشحالېدهٔ.

د جمهور رئیس صلاحکار زلمی هېواد مل صېب ښکلې پستې علمی خبرو او د مقاله نګارانو د اغلاطو اصلاح ډېر خوند اوکړو. هغوی پوهانو روڼو او خوئیندو ته تشکر ووئیل. پوهاند امیر شاه حسن یار د مقالو په کتاب چاپ کولو پوهان خوشحاله کړل. پروفیسر صابر خویشکی معین د وزارتِ تعلیم وفرمائیل "مجموعه مقالاتِ شما چاپ شود".



پوهاند سید امیر شاه حسن یار چې دا مهال د لوړو زده کړو د وزارت دنده په غاړه لری ووئیل چې مونږ د یوې داسې علمی تحقیقاتی ادارې د جوړولو اراده لرو چې د خوشحال خان ختټک او د هغهٔ د اولاد په علمی او ادبی کار به تحقیق کوی.

پیاوړی اجمل ختټک د افغانستان د اسلا می جمهوریت د جمهور رئیس اعلیٰ حضرت حامد کرزی صېب، د وزیر تعلیم سید امیر شاه حسن یار صېب، د لوړ ادیب زلمی هېوادمل صېب، د پوهانو روڼو لوڼو، خوئیندو، مشرانو

او کشرانو تشکر وکړو او د افغانستان د روښانه مستقبل امېد ئې ښکاره کړو. او دعا ئې وکړه چې الله پاک دې دا ملک او دا قوم اباد کړی.

هغۀ ووئیل: زۀ، زما قلم او زما ژوند زما نۀ دی. دا زما د لوئی قام د لوئې وروروليۍ دی، د غریب اولس دی. هغۀ دا هم ووئیل چې د لوړو زده کړو وزیر صېب د کومې ادارې د جوړولو اعلان وکړو دا دې شخصی نۀ وی فکری اداره دې وی.

د دعا نه پس دا تقریب پای ته ورسېدو.

واپس خپلو کمرو ته راغلو. زما ذهن کښې د ستر خوشحال خان خټک یۀ موزون فکر ګونجېدۀ:

درست پښتون له قندهار تر اټکه
سره یۀ د ننګ په کار پټ او اشکار

په ۲۱ اپریل ۲۰۰۷ء مونږ ټول ملګری د اجمل خټک بابا په قافله کښې "ګل غونډۍ" ته لاړو. دا د جمعې ورځ وه.

"ګل غونډۍ" د پروان د ولایت یۀ ډېر ښکلی مقام دی. دلته د غرونو جلال هم شته او د غر د چینو او ګلونو جمال هم شته. هوا ئې ډېره خوږه ده. د "ګل غونډۍ" لمن ډېره ویړه ده. دلته سېلانیان په موټرو کښې د لرې لرې نه د خپلو بچو سره راځی، اخلی پخلی کوی او د ښکلا خوندونه اخلی.

د پروان والی ښاغلی عبدالجبار تقویٰ دی. دا یۀ ښائسته ځوان دی. د فارسۍ شاعر دی، په پښتو ژبه پوهېږی. تقویٰ دار دی، خوش لباس دی او خوش ګفتار دی. خندان، ګل افشان دی. د ولایت تعمیرِ نو ته متوجه دی. پیاوړی اجمل خټک او مونږ ئې مېلمانۀ وو. د جمهور رئیس صلاحکار ستر ادیب زلمی هېوادمل په دغه سفر کښې زمونږ رهبر ؤ. د ولایت د والی سره مونږ هغۀ (د جمهور رئیس صېب صلاحکار) متعارف کړو.



د هغوئ پېژندګلو ئې مونږ سره اوکړه. بیا د چایو دور شروع شو. د جمعې مانځه له د مسجد په لور دواړه صاحبان لاړل. مونږ د "ګل غونډۍ" د پاسه مونځ وکړو. د کېمرو خاوندان د عکسونو جمع کولو په دنده مشغول وو.

د مانځۀ نه وړاندې دلته په چل چل کښې یوه ښکلې مشاعره وشوه. د سیف الرحمٰن سلیم صېب د غزل په اورېدو تقویٰ صېب ووئیل:

"سلیم صېب بابا دی خو خبرې د زلمو کوی".

د مانځۀ نه وروسته د ګل غونډې د پاسه په هال کښې د والی صېب عبدالجبار تقویٰ د طرفه مېلمستیا وه، تقویٰ صېب د ډوډۍ په مېز د ټولو نعمتونو سره د زړۀ مینه او د افغانانو د روایتی مېزبانۍ ټول خواږۀ ایښی وو. بیا قوماندان صېب خو د غوښې قاشونه د مېلمنو خُلو ته په کمال نیازمندۍ رسول. او والی صېب مسلسل د درې شپو دپاره د پاتې کېدو سَتُونه کول. چې واپس راتلو نو د مینې سوغاتونه ئې راکړل. زۀ د ولایت د ښکلا او د ګل غونډۍ د

جمال او د والی صېب د حُسنِ سلوک او خنده جبینی ځنې ډېر متاثر شوم. بیا چې محترم زلمی هېوادمل ګل بهار ته بوتلو ، د سیند په غاړه غاړه مو د باغونو او شنو پټو جنتونه ولیدل او د افغانانو په سترګو کښې مو د مینې او محبت رڼا ولیده نو دا مو یقین پیدا شو چې افغانان به ډېر زر بیا خپل وطن اباد کړی. خارجیان که تور دی که سپین هغوئ به دا قوم پرېږدی چې د امن په فضا کښې ساه واخلی او د ټولې ایشیاء د سکون باعث شی. د افغانستان نه چارچاپېره چین، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، ایران او پاکستان پراتهٔ دی. دا ټول ملکونه به د افغانانو په اطمینان قرار ومومی. د پامیر نه تر هراته پورې د هندوکُش د غرونو دا سلسلې به افغانستان د کوهِ بابا نه راوتې دریابونو د کابل، د هلمند ، د ارغنداب او د هرات په اوبو سېراب ووینی. او د غرونو دا وطن به باغونه باغونه شی.

زهٔ چې د ګل غونډۍ او ګل بهار او جبل السراج د ښائسته یادونو سره کابل ته راغلم نو مترنم خیالونه مې په کاغذ رقم کړل:

دا باغونه د جنت دی
د پروان د ولایت دی
هر پړاؤ ئې ګل بهار دی
هر بوټی ئې ګلنار دی
ګل غونډې د ګلو سازه
د ازغو نه ده بې نیازه
د چینو اوبهٔ ئې سپینې
ژوند بخښونکې دی شیرینې
هر بچی ئې نازنین دی
هر وګړی ئې حسین دی
سیند ئې څهٔ په شان روان دی
ولایت په دهٔ ودان دی
ګېرچاپېره غرونه غرونه
افغانان دی لوړ سرونه
والی خوښ ئې په تقو ٰی دی
خدائی نمانځلی په ښکلا دی
منتظم عالی وقار دی
په نامه عبدالجبار دی
دا ګلونه دې خندان وی
دا باغونه دې ودان وی
دا زمونږ د زړهٔ دعا ده
دا زمونږه تمنا ده

زما دا نظم لوړ ادیب او د جمهور رئیس صلاحکار زلمې هېوادمل ښاغلی تقو ٰی صېب ته ورسولو. هغوی په فون ما ته د تشکر پېغام راکړو. زهٔ د هغوئ د بیا ملاقات تږی یم.

مونږ په دغه ورځ په "کابل اِنْ" کښې د ماښام ډوډۍ د سرحدونو ، قومونو او قبائلو د چارو د وزیر محترم عبدالکریم (براهوی) سره وه. ګران براهوی په رېښتیا اجمل خټک او د هغهٔ سره راغلو ملګرو ته پخېر راغلاست ووئیل او د مېلمنو په راتګ ئې د مننې څرګندونه وکړه. په ځواب کښې خټک صېب یوه لنډه خو له محتوا ډکه وینا وکړه. وئیل چې:

" ستاسو د مينې تشکر. د ويار ځای دی چې د افغانستان د بيا جوړولو بهير په بيړه روان دی. تاسو زمونږ د مينې او وينې ورونه يئ. مونږ ټول يؤ قوم يو. د مينې او ورورولۍ په لور به چټک گامونه اخلو. ستاسو د مينې تشکر. "
(د هغوئ د وينا مفهوم)

وزير صيب مونږ ته تحائف هم راکړل او په مينه ئې الوداع کړو.

آ

بيا نو خپلې کمرې ته راغلو. مونځونه مو اوکړل او اوده شو. ما خوب ليده چې ما ته ظهور الحق لالا ........ وائی "سبک د ليکونکی فکر او شخصيت دی سبک سپين او سره زر ويلی کول او قالب کولو ته وائی. د ليکونکی فکر او شخصيت د هغه سبک دی. د اجمل خټک ژبه د هغه د ملت ځهره ده". چې راويښ شوم نو ظهور الحق لالا نه ؤ. مُلا اذان کولو. وئيل ئې "اَلصلوۃُ خَيْر مِنَ النوم". زه راپاځيدم. مونځ مې اوکړو. مهجور صيب هم بيدار ؤ. مونځ ئې وکړو. د مهمان خانې په صحن کښې ئې قدمونه اخستل. او بيا ناشتې ته وبللې شو.

په ۲۲ اپريل مونږ د تعليم او تربيه پوهنتون ته لاړو. دا پوهنتون د افغانستان (کابل) د ټولو نه په عمر کوچنی پوهنتون دی. ما ته يؤ صاحب ووئيل چې د پوهنتون درجې ته په ۱۳۸۲هـ ش / ۲۰۰۳ء کښې رسيدلی دی. په دې حساب د دوه نيمو کالو خبره شوه. دا اداره ډير کار کوی. زرگونه محصلين ئې تربيه کړل او کوی ئې. دلته هلکان او جينکۍ دواړه تربيه کيږی. جينکۍ د پردې او حيا په لباس کښې وی.



په دغه ورځ مونږ د کابل ښار ته بوتلی شو. د غرمې ډوډۍ مو په يؤ عام هوټل کښې وخوړه او ملگرو ځه خريداری (Shopping) هم وکړه. په بازار کښې يؤ ځوان د اباسين په ليدو ډير خوشحاله شو. د ټی وی په حواله ئې وپيژنده.

ماښام مونږ د انجينئر عارف نورزی ميلمانه وو. دا صاحب په اسمبلۍ کښې د يوې چوکۍ مالک دی او د مينې، محبت او ورورولۍ داعی دی. ميلمنو له ئې په ډالۍ کښې پټکی ورکړل ښاغلی اجمل خټک خو بيا دغه دستار پاکستان ته په سر راؤړو. شمله دې جگه اوسی.

په دغه مقام کښې زما ملاقات د شربت جان د ماما د ځوی سره اوشو. شربت جان زما د کاکا انيس جان مرحوم ځوی دی. ډير خوشحال شوم. د شربت جان د خيريت نه ئې خبر کړم. الله دې زمونږ د وينې او مينې ټول عزيزان اباد او ښيرازه لری.

په ۲۳ اپريل د سه شنبې ورځ وه. مونږ کابل پوهنتون ته لاړو. دا لويه علمی اداره په ۱۳۲۵ق هـ کښې جوړه شوې ده. دا لويه يونيورستی (پوهنتون) د يونيسکو په شين کتاب کښې رجسټرډ ده او سند (ډگری – ډپلومه) ئې بين المللی اعتماد لری. په دې پوهنتون کښې گڼ شمېر علمی شعبې بيا علمی تحقيقی او تدريسی کار ته راژوندی شوې

دی. د استاذانو اثار او مقالات د چاپولو دپاره د کابل پوهنتون مجلات لری. دا مقالې که د سائنس او طبعی علومو وی او که د اجتماعی علومو وی.
د کابل د پوهنتون ټول کالجونه (پوهنځی) د دنیا د ترقی یافته یورپی ملکونو د تعلیمی ادارو سره تماس او تړون ساتی.
دا د علمونو مرکز اندرونی جنګونو په تېر دور کښې ډېر زورلی او لوټلی دی. نو اوس په نوې جذبه کار کوی. د نوو علمونو شعبې پکښې اجراء شوې دی. کتب خانه ئې بیا ځان ته کتابونه راکاږی. د I.T. او کمپیوټر شعبې پکښې کار کوی. په کالجونو (پوهنځو) کښې د کمپیوټر تعلیم و تدریس کېږی.
مونږ د پښتو څانګې ته لاړو. دلته پخوانی قیمتی کتابونه تالا ترغه شوی وو. اوس بیا دا خزانه په ډکېدو ده. استاذان کم دی، شاګردان ډېر دی نو د نورو استاذانو ضرورت دی. دلته هلکان او جینکۍ دواړه سبقونه وائی. معلومېږی چې ډېر زر به دا تعلیمی مرکزونه پرمختګ وکړی او افغانستان به یؤ وادان او چراغان وطن شی.

الٰهی راولې باران د علم
چې پرې ودان افغانستان شی
چې باغ د زړونو مو روښان شی

(ملنګ جان)

د پېښور د پښتو اکېډمۍ نه زمونږ په وفد کښې شاملو پروفیسرانو د کابل د پوهنتون د پښتو شعبې استاذانو سره لوظ وکړو چې کتابونه به ورته ولېږی.
د هغې نه پس مونږ ټول د پیاوړی شاعر اجمل خټک سره د موټرو په کاروان کښې آرک (Arch) ته لاړو. دا محرابی عمارتونه او محرابی دروازې او محرابی ګذرګاهونه شاهی محلات او قصرونه وو چې د افغانستان د شاهی دور یادګارونه دی. اوس هم په قصرِ ګل خانه کښې د افغانستان پخوانی بادشاه او اوسنی بابائی ملت اعلیٰحضرت محمد ظاهر شاه اوسی چې د ۱۹۳۳ء نه تر ۱۹۷۳ء پورې څلوېښت کاله د افغانانو بادشاه ؤ.
د آرک په یوه حصه کښې د افغانستان د اسلامی جمهوری دولت د جمهور رئیس اعلیٰ حضرت حامد کرزی دفتر دی. دې لوړ قومی سیاسی حکمران د ښاغلی اجمل خټک په درناوی کښې مونږ ټولو ته په ۲۳ اپرېل ۲۰۰۲ء د غرمې د ډوډۍ بلنه راکړې وه. د جمهور رئیس صلاحکار محترم زلمی هېوادمل په دغه دوره کښې زمونږ رهبر کوربه ؤ. مونږ یؤ محرابی هال کښې د ډوډۍ مېزونو ته په کرسو کښېناستو. کوربنو منتظمینو مونږ ته ځایونه راکول. دروازې ته نزدې د مېزونو په پلنو پرته کرسۍ خالی وه. د هغې ښی لاس ته په اوږدو اولنۍ کرسۍ کښې اجمل خټک کښېناست. د ښخوا ته په اوږدو ښاغلی سیف الرحمٰن سلیم صېب ؤ. د هغهٔ کینړ لاس ته زهٔ کښېناستم. راسره نزدې ډاکټر خورشید عالم ؤ. او د اسې دا اوږد مېز دواړو غاړو ته ډک شو. مېزبانانو په طریقه د خوراک لوښی کېښودل. سلاد، وریژې، تیکې، مربې، اوبهٔ وغېره په مېز کېښودی شوې. د ډوډۍ ټکرې خوراک ته په انتظار وې. په دې کښې د دروازې نه بهر یؤ ښکلی د خندا ډک اواز د تود او مینه ناک سلام او د محبت نه ډکو جملو سره غوږ ته راغی چې اجمل خټک ئې مخاطب کړی ؤ. دا د افغانستان د جمهور رئیس اعلیٰ حضرت حامد کرزی اواز ؤ. مونږ ټول احتراماً اودرېدو. هغوی خټک صېب ته غاړه ورکړه او ټولو مېلمنو ته ئې پخېر راغلاست ووئیل. او بیا ئې وفرمائیل "تاسو مهربانی وکړئ کښېنئ، دا چې څهٔ حاضر دی وبه ئې خورو نو بیا به مصافحې وکړو."



ډاکټر خورشید عالم د جمهور رئیس په ځواب کښې ووئیل "تشکر- پیاز دې وی خو په نیاز دې وی". او بیا مونږ بسم الله کړه. رئیس صېب کم خوراکه ؤ. نزدې ناستو مېلمنو ته ئې رکېبۍ نیولې "دا واخلئ". ولاړو کوربنو به هم مېلمنو ته د خوراک څیزونه نیوّل "صېب دا واخلئ". مونږ په بې تکلفۍ د خپل کور په شانې ډوډۍ وخوړه او چې د کاشوغو او رکېبو ټنګار بس شو نو اعلیٰ حضرت راپاڅېد، وئیل ئې "اوس به ګړه بړه وکړو د خوراک په وخت کښې ربړه نۀ وی پکار."

بیا هغوی یوُ یوُ مېلمه ته نزدې شو. غاړه ئې ورکړه او د مسکا خوشبو ئې خورې شوې. چې کښېناستو نو صدر کرزی صېب سره ښاغلی زلمی هېوادمل په ډېر درناوی د مېلمنو پېژندګلو وکړه. او په مېز د ناستو دولتی همکارانو تعارف ئې د مېلمنو سره وکړو. خټک صېب د جمهور رئیس او د ټول افغان اولس شکریه ادا کړه او د ارواښاد عبدالاحد کرزی ذکر ئې وکړو چې یوُ ملی مشر ؤ، د قندهار ولایت ؤ او د جلالتمآب حامد کرزی پلار ؤ. چې شهید کړل شو.

بیا جمهور رئیس وفرمائیل چې تاسو له به تکلیف درکوو چائې به اخوا بل ځای کښې څښو. د غنی خان د نظم (د فرید خان د مور په نوم خط) ذکر ئې وکړو چې دا زما خوښ دی. د اباسین تعریف ئې وکړو. د اجمل خټک ئې ډېر احترام کولو. زما د پېژندګلو په وخت محترم زلمی د طورو حواله ورکړه. وئیل ئې "ښۀ شاعر دی، عالم دی". چې بل هال ته تلو نو جمهور رئیس به خټک صېب ته تکیه ورکوله. زر به نور څوک راغلل خټک صېب له به ئې تکیه ورکړه. یوُ ځای ودرېد، اشاره ئې وکړه "دا د امیر عبدالرحمان خان (1880-1901ء) کور دی. مرمت غواړی، زۀ به ئې انتظام کوم". "دا غټې ګورې ونې دی په اوړی کښې مونږ دلته دفتر کوو."

بیا د چایو د پاره هال ته لاړو. جمهور رئیس وفرمائیل:

"تاسو د پښتو ژبې ادیبان او شاعران یئ. کوم قوم چې خپله ژبه او خپل کلتور پرېږدی هغه قوم ورک شی".

چای نوش کېدې.

جمهور رئیس ووئیل "مونږ د جمهوریت تجربه کوو. زمونږ د کابینې وزیران د اسمبلۍ د وکیلانو (ممبرانو) په ووټ جوړېږی. د پارلیمانی نظام په مقابله کښې دا زیات جمهوری طرز دی."

جمهور رئیس ووئیل "د کوم قوم جغرافیه چې نۀ وی، هغه قوم هیڅ هم نۀ وی."

زمونږ یوُ ملګری سوال وکړو "دا ممتنع ووټ څۀ وی؟" نو ښاغلی ځواب ورکړو:

"په ائین کښې د ممتنع رائې څۀ حیثیت نشته. ووټ خو یا صحیح وی یا مسترد. دا ممتنع هغه ووټ وی چې نۀ د چا په حق کښې وی او نۀ مسترد وی. زۀ خو وایم چې د دولت وکیل ولې یوه واضحه فیصله نۀ شی کولی؟".

اوس نو د اجازت سوال خټک صېب وکړو او دعا ئې وکړه. او مونږ د افغانستان د ټولو نه په منصب د لوړ سړی شائسته اخلاق او پښتنه رویه ولیده او د هغۀ مینه مو د ځانه سره راوړه.

زۀ چې بیا ځای ته راغلم نو یوُ څو شعرونه مې په دې تاثر کښې ولیکل. هغه مې اجمل خټک صېب ته ورکړل. هغۀ وکتل او ښاغلی زلمی هېوادمل ته ئې وسپارل.

د دې نه پس د خوشحال خان خټک ليسې ته لاړو. دلته هال د هلکانو او مشرانو نه ډک ؤ. دا يؤ لوئى هال ؤ. ستېج جوړ ؤ. د صوت الہ لګېدلې وه. د غونډې رئيس د صدارت په ډېه ناست ؤ. کمپيئر د ليسې يؤ صاحب ؤ. څۀ وخت پس اجمل خټک صېب هم راغى. د تلاوت نه پس يؤ هلک تقرير وکړو. دا تقريب د ادارې خلقو د خټک صېب د اتيايمې کليزې په سلسله کښې کولو. د سرحدونو، قومونو او قبائلي چارو وزير محترم عبدالکريم براهوى او د هغۀ معين محمد عمر ببرکزى هم وو. د قرآن عظيم الشان د تلاوت نه پس يؤ هلک په تقرير کښې د خوشحال خان خټک او د اجمل خټک د ننګ او پت خبرې وکړې. بيا معين د وزارت تقرير وکړو. ورپسې ماته د تقرير بلنه وشوه. ما د علم او هنر او د جديد سائنس او ټيکنالوجۍ تدريس ته د مشرانو توجه د راګرځولو هڅه وکړه چې خپلو بچو له دا تعليم ورکول غواړى. د ورورولۍ او د مينې پېغام مې ورکړو. پروفيسر راج ولى شاه خټک يؤ مؤثر تقرير وکړو. د پت او پښتو خبره ئې وکړه. راز، اباسين او سليم صاحبانو ښکلى ښکلى شعرونه ووئيل. هلکانو ترانه ووئيله. بيا اجمل خټک صېب دوه خبرې وکړې. خپلو شهيدانو ملګرو پسې ژړا ورتله. د ورورولۍ او مينې پېغام ئې ورکړو. د چايو نه پس په مېدان کښې د خټکو د قبائيلى اتڼ مظاهره وه. درې ډولکى هنرمندو ووهل. ډولکو ته هلکانو د رومالونو سره په ګډا کښې د شجاعت مظاهره وکړه. ډولکى ډېر غټ وو او د هنرمندو جبې ږيرې وې. زما ملګرى وى ائى پى تاج که دا ډولکى ليدلى وى نو ټول به ئې چورلندى کړى وو.

په ۲۳ اپرېل ۲۰۰۲ء د ماښام ډوډۍ د وکيل محقق صېب سره وه. د محقق صېب ژبه فارسى وه. د هغۀ ۱۱ کلن ځوى سره ملاقات وشو چا چې افغانستان له په سوکونو کښې طلائى تمغه ګټلې ده. دا جهانى باکسر باقر نومېدۀ. محقق صېب د افغانانو خوښ عوامى رهبر دى. او لکه د نورو افغانانو مېلمه دوست دى. د مينې رڼا ئې په لېمو او اننګو کښې ځلېده. د اجمل خټک سره د افغانانو محبت د کتو ؤ. په دغه ډوډۍ کښې ګڼ شمېر وکيلان (د قومى اسمبلۍ ممبران) وو. دا ټول په خټک صېب غوړېدل. حقه دا ده چې د محقق د مينې حق مونږ نۀ شو ادا کولى.

ما چې د جمهور رئيس اعلیٰ حضرت حامد کرزى د ملاقات په تاثر کښې کوم شعرونه وئيلى وو هغه دا دى:

غزل

زۀ کمکى وومه خو لوئى شوم
چې رڼا ته رانژدې شوم
چې ملنګ ته خندنى شوې
دې جذبې ته پسرلى شوم
په دې خوږ وطن بهاره
ستا ګلانو ته مسکى شوم
تۀ خوږې خوږې ورمې ئې
زۀ خوږې خوږې ورمې شوم
دا وطن د ښکليو بڼ دى
زۀ ئې حسن ته لوګى شوم
امنيت کښې ئې ښادى ده
زۀ اسرار په دغه پوئى شوم

په ۲۴ اپرېل ۲۰۰۲ء د دوشنبې ورځ وه. مونږ محسوسوله چې ډالۍ ټپالۍ دويم ببګ غواړى. زما د کمرې ملګرى پروفيسر پرويز مهجور صېب د يؤ ذاتى ضرورت په وجه په خپله مخه په ۲۳ اپرېل د مهمان خانې نه پېښور ته روان شو. هره کله چې د سيکورټى عسکر د هغوئ د تګ نه خبر شو نو رنګونه ئې ووهل او ډېر پرېشانه شو. خو مارغۀ الوتلى ؤ. مونږ تسلى ورکړه چې مهجور خپل کور ته تلى دى. تاسو غم مۀ کوئ. ماښام بيا ما راشد على سره په فون

رابطه وکړه. هغهٔ راته ووئیل چې مهجور صیب امانت سلامت را رسېدلی دی او مونږ ته ئې ستاسو د فلائیټ درک راکړی دی.
آ

مونږ درې ملگری د عسکرو په نگرانئ کښې د کابل بازار ته لاړو. بېگونه (بوجئ) مو واخستې او بېرته راغلو کډه مو وتړله. او بیا په گاډو کښې کښېناستو. د الوتکو ډگر ته بوتلی شو. دوه هیلی کاپټرونه زمونږ د پاره مختص وو. وروختو او د شمالی علاقو په لور روان شو. زمونږ هدف د پنج شېر دره وه. د دې درې په شاؤخوا د کاپیسا، لغمان، نورستان او کنړ ولایتونه دی.

د پنج شېر درې د تېرو جنگونو او په افغانستان د خارجی قوتونو د حملو په نتیجه کښې نوم گټلی دی. دا دره د هغو پنځو ازمرو په سبب د پنج شېر په نوم یادېږی چې د امیر تېمور په خواهش ئې په یوه شپه کښې د دریاب مخې ته بند تړلی ؤ. د شوروی اتحاد د حملې په وخت کښې دلته د وادئ پنج شېر یؤ بل زمری دنیا وپېژندو. دا زمری غازی احمد شاه مسعود ؤ. چې د پلار نوم ئې ډگروال دوست محمد خان ؤ. د دوئ نیکهٔ د امیر عبدالرحمٰن خان معتمد ؤ. یحیٰی خان نومېدهٔ. د احمد شاه مسعود د زېږون ځای جنگلک نومې کلی دی. د هغهٔ خاندان په عوامو کښې نوم او مقبولیت درلود. احمد شاه مسعود د استقلال د لیسې نه فارغ ؤ. او پولی ټیکنیک پوهنتون کښې ؤ چې سیاست ته راغی. د سردار داؤد خان په زمانه کښې پاکستان ته مهاجر شو خو کله به په چترال ؤ او کله به په پنج شېر کښې ؤ. کله چې د سردار داؤد خان دور ختم شو او شوروی قوه رابرخېره شوه نو ملی اتل راغی او په خپل وطن کښې ئې د هغو ملا ماته کړه. دا نر غازی په ۱۳۳۱ لمریز کښې زېږېدلی ؤ او د سنبلې په اتلسمه نېټه په ۱۳۸۰ لمریز کښې شهید کړی شو.

وائی چې دوه خارجی دهشت گرد د صحافیانو په جامه کښې راغلل او د مرکې اراده ئې وښودله. او په غازی ئې د خودکش بم د چاودنې سره حمله وکړه. دغه وخت دا ملی اتل په تخار کښې د خواجه بهاء الدین ښار کښې ؤ. عمر ئې ۴۹ کاله ؤ. احمد شاه مسعود ته د ټول شمالی سمت د تاجکانو مرسته حاصله وه. دهٔ بیا د پنج شېر څخه هجرت نهٔ ؤ کړی. تر مرگه په وطن کښې ؤ.

زمونږ دواړه هیلی کاپټرونه ان چې د واورینو غرونو په څوکو ورتېر شول او د سریچې غونډئ د پاسه کښېناستل. مونږ د غونډئ د پاسه منتظر خلق ولیدل. د پنج شېر ځنې مسئولین او عوام په لږ تعداد کښې ولاړ وو. د سریچې غونډئ د پاسه یؤ ښکلی عمارت ؤ. لا کار پرې جاری ؤ. په دغه گنبد کښې د پنج شېر زمری په خپل قبر کښې ویدهٔ ؤ. مونږ ټول مېلمانهٔ او کوربانهٔ دغه مزار ته ودرېدو. ما د خټک صیب په وېنا د قرآن عظیم الشان د یؤ مکی سورة تلاوت وکړو. په دغه یوولس ایتی سورة کښې الله تعالیٰ رسولِ مقبول صلی الله علیه وسلم ته تسلی ورکړې ده چې (نهٔ ستا رب (ج) تهٔ رخصت کړی ئې اؤ نهٔ ستا نه وېزاره شوی دی او خوا مخوا اخرت تا لره غوره دی." بیا مو په جمع دعا وکړه. بیا خټک صیب د پنج شېر د اوسېدونکو تشکر اوکړو او د مینې محبت پېغام ئې ورکړو. وروسته د پنج شېر ملا صاحب دعا وکړه (چې د حقانیې فاضل او د طورو د عالمانو (د مولانا سمندر خان } او مولانا عنایت الله } ) شاگرد ؤ. د چایو نوش کولو نه پس مونږ بیا هیلی کاپټرونو ته وختو. د پنج شېر طویله دره ( ۱۸۰ کلو میتره ) مو د اسمانه ولیدله. دا شادابه دره واقعی د زمرو جاله ده. الله دې د افغانانو دا وطن د امن جنت کړی. د افغانستان پښتانهٔ او تاجک او نور قامونه چې یؤ وی.... نو هله به پرمختگ کوی.

مونږ واپس راغلو. نن د غرمې د ډوډئ بلنه وه د افغانستان د نائب صدر په کور کښې وه. دا صاحب یؤ تعلیم یافته ځوان ؤ. د ملی اتل احمد شاه مسعود ورور ؤ. اجمل خټک او مونږ ټول د دوئ په لیدو خوشحال وو. د افغانستان شېخان، پښتانهٔ، نورستانی، دیگانان، مغلان، گوجران، مشوانی، سواتی او نور ټول افغانان دی. باتوران دی. تاجک، هزاره، ازبک او ترکمن ټول سره د پښتنو رونړه دی. دوئ بلوچ دی که چلس دی او که ارین دی د افغانستان بچی دی.

دلته د نائب صدر یؤ کشر ورور ؤ چې گران زلمی هېوادمل ئې په صفتونو سر ؤ. دا ځوان په برطانیه کښې د افغانستان سفیر ؤ. متحرک سړی ؤ. د تاجکو او پښتنو د ورورولئ علامت ؤ. د ډوډئ نه پس د نائب صدر د طرفه مېلمنو ته پټکی ورکړی شول.

د دې نه پس بیا ارګ ته بوتلی شو. په قصرِ ګل خانه کښې اعلیٰ حضرت شاه ظاهر شاه بابائی ملت سره تاریخی ملاقات وشو. بابائی ملت ته مونږ په محل کښې په تاؤ راتاؤ باره درو ورسېدو. یؤ دوه درې ځایه په پاټکو ختل هم وو. اعلیٰ حضرت په یؤ هال کښې مخامخ په کرسۍ په اطمینان ناست ؤ. ورسره خوا کښې سردار ولی خان په (Wheel Chair) ناست ؤ. خوا کښې ورسره محترم احمد ظاهر شهزاده صیب په کرسۍ ناست ؤ. او نزدې ورسره په صوفه سیټ دوه ځوانان نمسی ناست وو. د بابائی ملت شا ته په وردۍ کښې یؤ جرنیل ولاړ ؤ. داسې ښکارېدل لکه د یؤ غټ چراغ نه ګېرچاپېر نور چراغونه وی. نزدې ورسره د مصافحې نه پس ګران اجمل خټک صیب په صوفه کښېناست او دۀ سره نزدې محترم ارج ولی شاه خټک کښېناست. ټولو مېلمنو اعلیٰ حضرت او سردار صیب او شهزادګانو سره مصافحه وکړه.

د پخېر راغلاست نه وروسته اعلیٰ حضرت په دری ژبه کښې د خټک صیب او مېلمنو په راتلو د خوشحالۍ اظهار وکړو. بیا محترم زلمی هېوادمل صیب د یؤ یؤ مېلمه او د شاه او نورو غړو پېژندګلو وکړه. اول خو محافظ جرنیل د شاه د وینا په پښتو او د خټک صیب د خبرو په فارسۍ ترجمه کوله بیا دا فریضه محترم زلمی هېوادمل ادا کړه. د هغۀ په دواړو محاورو ډېر کامل عبور دی.

خټک صیب ورته ووئیل "تۀ زمونږ بادشاه ئې". اعلیٰ حضرت وفرمائیل "نه، زۀ بادشاه نۀ یم زۀ خو د افغان قوم خدمتګار یم". خټک صیب بیا ووې "زمونږ تا سره مینه ده. دا زما ملګری عالمان ادیبان او شاعران دی. دوئ ستاسو احترام له راغلی دی". اعلیٰ حضرت وفرمائیل "زۀ ستاسو په راتلو خوشحال یم. دا ستاسو خپل کور دی. زۀ بادشاه نۀ یم. زۀ خدمتګار یم. د افغان قوم په ترقۍ خوشحالېږم. عالمان، پوهان او شاعران مې خوښ وی".

بیا سردار ولی خان صیب اجمل خټک صیب سره په پښتو ژبه خبرې وکړې. سردار ولی خان د اجمل خټک نه تپوس وکړو "تۀ څنګه ئې؟". اجمل خټک ورته ووئیل "تۀ خو زما ملګری ئې. تا خو به ما سره پښتو کښې خبرې کولې". خټک صیب ورته ووئیل "بستری ووم پنځه مرضونه دی راکښې افغانان مې خوښ دی مونږ ټول روڼه یو نو راغلم". سردار ولی خان ورته ووئیل "زۀ خو ستا نه یؤ کال مشر یم. تۀ د اتیا کالو ئې او زۀ د یؤ اتیا کالو یم". بابائی ملت په دې خبرو کښې خوند اخستلو. سردار ولی خان د اعلیٰ حضرت زوم دی. د اعلیٰ حضرت عمر خو د نوی کالو نه اوړېدلی دی. خو په څهره ئې د عظمت رڼاګانې خورې دی. مطمئن سړی دی. بیا محترم راج ولی شاه خټک هم دوه خبرې وکړې. او مونږ ټولو د اعلیٰ حضرت محمد ظاهرشاه په دربار کښې چائې وڅښې. اعلیٰ حضرت د افغانستان په علمی ترقۍ کښې د دولت د غریبۍ باوجود کار کړی ؤ. د انقلاب او جنګونو د لاسه دا ملک تالا ترغه شو. په دغه دوران کښې دوئ د ملک نه بهر وو. اوس ډېر خلق د ګور خاؤرو ته تلی دی او اعلیٰ حضرت د بابائی ملت په حیثیت په شاهی محل کښې په عزت اوسی.

شهزادګانو مونږ سره د محل د یوې دروازې پورې جلب وکړو. تصویرونه وویستلی شو او په مینه محبت الوداع شو.

اوس مونږ د هوائی ډګر په لور روان وو. زۀ د الله پاک شان ته حیران ووم چې فقیران ئې په بادشاهانو ونمانځل. اجمل خټک یؤ ملنګ شاعر دی. دا پیاوړی انسان د دنیادارو په نزد یؤ بې ماله بې جاګیره بنده دی. غیرت د وخت د فرعون او قارون مبارزې ته ودرؤلی دی. د "هوښیارانو" پیرانو اؤ د نمایشی ملیانو په خیال دا د مستبدو قوتونو مخالف پښتون لېونی شاعر دی. او په کاڼو ویشتو دی. خو د زړونو په تخت ناست لوئی حکمران (ج) مونږ لس دولس طالبانِ علم و ادب په دې خبره ګواه کولو چې غېرتی الله د قلم په محراب کښې د شاهانو او واکدارانو پت من سرونه د احترام په توګه ټیټوی. زما د فکر تسلسل د موټر بریک په لګېدو مات شو.

په هوائی ډګر د کابل د ولایت ډېر ثقه ناک والی صاحب دین محمد او د افغانستان پخوانی صدر او اوسنی سینئر وزیر هدایت امین ارسلا سره ملاقات وشو. هغوئ ډالۍ هم راکړې او چې د پی ائی ای جهاز ته راوختو نو ډېر ستړی وو. خو د الوتکې نه مو د افغانستان د خوږو رونو خوئیندو، کاڼو بوټو او غرونو ته په مینه مینه کتل. ان چې د خپل خوږ وطن د ګلونو ښار پېښور ته راورسېدو. د خټک صیب نه رارخصت شو. د ملګرو نه مو اجازت واخست. د محترم راج ولی شاه خټک صیب نه راجدا شو. او شوکت علی شرار صیب شاه سعود ځان سره په ګاډی کښې کښېنوو.

د منن اطهر علی، سعدیې، اشرف علی او زرقا بی بی نه مو اجازت واخست. او تېر ماسخوتن الله تعالیٰ ی خپل کور ته راورسولو. عروج راته ډېره خوشحاله شوه.

**د پښتنو اجمل**

زه نظر نظر ایمان ایمان عمل عمل یمه
زه ښکلا ښکلا اثر اثر غزل غزل یمه
زه د قام په مینه کښې بې مثله بې بدل یمه
زه په تورو شپو د لارې لیت یمه مشعل یمه
زه خو لاروو ته لارښوونکی د منزل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
ستا په اننګو کښې خو زما د وینو رنګ دی
ما خو همېشه کړی په تاسو باندې ننګ دی
کله مې جانانه د ایشاره کړی څنګ دی
ما خو دا سر ایښی په کچکول کښې د ملنګ دی
زه خو د پښتون د قافلې د لارې مَل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه د پښتنو د خوشحالۍ دپاره پایمه
زه د مېړنو د ابادۍ سندرې وایمه
زه د پښتونخوا ریښې ریښې لمنې ستایمه
زه دا پرګنې د ازادۍ منزل ته بیایمه
زه تورو تیارو کښې د غیرت د شمعې ځل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه د اُورِی تږی د زپلی یؤ اواز یمه
زه د انقلاب د نغمو ترنګ یمه شهباز یمه
زه په خپل اولس باندې قربان یمه جانباز یمه
زه د سربازانو شازلمو د فکر ناز یمه
زه خو همېشه روان د خپل رهبر په پَل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه د ظلم جبر په پنجره کښې چغېدلی یم
زه د قام په جنګ کښې په لمبو کښې سوزېدلی یم
زه په شړنګاشړنګ د زنځیرونو نازېدلی یم
زه په جېل خانو تعذیب خانو کښې لوغړېدلی یم
زه په کربلا کښې د یزید د لاسه دَل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه د پښتنو په سمه غر کښې پسرلی وینم
زه د پښتونخوا په لر او بر کښې پسرلی وینم
زه په هر تندی په هر نظر کښې پسرلی وینم
زه په هر یؤ ګل په هر پرهر کښې پسرلی وینم
زه چې د خزان تودو بادونو له اجل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه د هر زلمی په زړه کښې څړیکه د الفت یمه
زه د هر پښتون په خُلهٔ کښې چغه د غیرت یمه

زه د باچا خان په شان مجنون د محبت یمه
زه د ملنګانو د رو ښانو علامت یمه
زه د خوشحال خان او ایمل خان د پټکي وَل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه یم د پښتون په اتحاد او وروروليِ مئین
زه د خپل وطن په سوکاليِ او ازادۍ مئین
زه یم په نرۍ کښې د قامونو په سیاليِ مئین
زه په ښاده ورځ د ګلالي د ګلاليِ مئین
زه په دشمنانو د پښتون باندې یرغل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
ما خپله ځواني د خپله قامه لُوګي کړې ده
ما خپله ځواني د ننګ و نامه لُوګي کړې ده
ما خپله ځواني کله د جامه لُوګي کړې ده؟
ما خپله ځواني د خپل مرامه لُوګي کړې ده
زه د خپل اولس د خپل وطن د مینې غل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
ما د یار د زلفو زولنو باندې زنګلي دي
ما د حق دپاره سرو لمبو ته رادانګلي دي
ما خو د قارون په خزانو پورې خندلي دي
ما خو د زړهٔ غوښې په جانان باندې شیندلې دي
زه خو د هجران په غرغنډو باندې جلبل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
زه خو به ترمرګه پښتنو سره پښتو کوم
زه خو به خبره د جرګو د مرکو کوم
زه به محبت په زړهٔ، په سترګو، په لېمو کوم
زه به قرباني لکه حسین (ع) په وینو سرو کوم
زه خو د کروړ هسې سنګین یمه اتل یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه
تهٔ خو لا وړوکی وې اسراره چې زه ځوان وومه
زه د هغه وخته لېوني د باچا خان وومه
زه د قام د مینې په الزام کښې بندیوان وومه
زه د محبت په تور د ښځه او ېزان وومه
څهٔ چې راته وائې وایه زه هغه "پاګل" یمه
زه د پښتنو د مېړنو هغه اجمل یمه

(اسرار د طورو)



ګران مشر اسرارالرحمان اسرار د طورو د پښتو ادب او علم د دنیا اېژندلے پېژندلے نوم دے ـ اعلی تعلیم یافته دے او د مردان دطورو ددرنې علمی او په قام مئینې کورنی بیدار غړے دے ـ په دین او پښتو ډیر پوخ مئین دے ـ د یو تکړه لیکوال سره سره یو لطیف تقریر کوونکے هم دے ـ دغه که د جومات ممبر وی اوکه د حجرې مئیلس، ادبی ستیج وی اوکه تعلیمی، د دوئ د خبرو د جادو او د دلیلونو د منطق نه ځان خلاصول ګران وی ـ

ددې نه وړاندې ئې پنځه شپږ کتابونه چاپ دی ـ

د"کابل سفر" ئې یو مهم ادبی زیار دے ـ چې د یو تاریخی سیمینار او د افغانستان د یوې وونی د سفر روداد دے ـ هیله ده چې لوستونکی به د خپلې نیکانې دا خوږه قیصه د خپل درونـد مشر په خُله خوښه کړی ـ

په درناوی

اباسین یوسفزے

چیئرمین پښتو څانګه اسلامیه کالج پیښور

نیټه:- ۱۹ امی سنه ۲۰۰۶ء